PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه ولسمشر غني يوه " نوي ملتيا " ته راوبلل.

د " نوي دولت – نوي ملتيا" تر شعار لاندي په افغانستان کي د اروپايي ټولني ځانګړي استازي فرانز مايکل ميلبن ولسمشر محمد اشرف غنی سره وکتل ترڅو د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ نوي اړيکي پيل کړي.

کابل , 3 فبروری 2015

ولسمشر محمد اشرف غني په افغانستان کي د اروپايي ټولني ځانګړي استازي او د پلاوي مشر فرانز مايکل ميلبن څخه هرکلئ وکړ ترڅو د اروپايي ټولني او افغانستان ترمنځ اړيکو باندي خبري وکړي.

له دغه لیدني نه وروسته د اروپايي ټولني سفير وويل: " اروپايي ټولنه د افغانستان خلک اوږد مهال ملګرئ ده او افغانستان ته زمونږ بی ساری مرستي به دوام ولري. د نوي حکومت رامنځ ته کيدو سره مونږ تمه لرو چي د اصلاحاتو په برخه کي پياوړي همکار اوسو. نوي دولت نوي اړيکي غواړي. ولسمشر غني سره زما ليدنه د افغانستان او اروپايي ټولني سره د نوي اړيکي پيل سبب وګرځيدو. "

د اروپايي ټولني ځانګړي استازي وويل: " مونږ د افغانستان "د ځان باندي اتکا درک" سند څخه هرکلئ کوو. دغه سند پياوړي او هڅوونکي بنډل وړاندي کوي او مونږ د دغه سند د پلي کيدو په تمه يو. مونږ د ولسمشره دغه ليدلوري سره يوځاي يو چي د مرستو اغيزمنتوب بايد لوړ شي او هڅه کوو چي ولسمشر او دولت سره يې کار وکړو ترڅو له دغه ليدلوري څخه ښه درک رامنځ ته شي. مونږ يوه نوي اړيکي په لور به پرمخ لارشو او يوځای به کار وکړو چي افغانستان سره "د دولت جوړونکي قرارداد" ته زمينه برابره شي. "

"دولت جوړونکي قرار" داد به افغانستان سره مرسته وکړي ترڅو خپل ظرفيت لوړ کړي او خپل د پاليسي موخې پلئ کړي و په تدريجي توګه خپل د راتلونکي د پراختيا مسووليت په غاړه واخلي. که بريالئ شي، دغه قرار داد به افغانستان ته د دي توان ورپه برخه کړي چې مرستي په اغيزمنه توګه ترلاسه کړي. دغه قرار داد عادي افغانانو ته د مرستو رسيدل تضمين کوي.

" اروپايي ټولنه به خپل پاملرنه اړين سکتورنو لکه کرنه ، روغتيا ، پوليس ، قانون او نظم او دموکراتيزه کولو باندي دوام ورکړي. له دي سره يوځای اروپايي ټولنه به خپل د ملاتړ هغه برخه چې د افغان دولت لخواه مديريت کيږي لوړوي. دغه مسله ملي لوړ ظرفيت لوړتيا ته اړتيا لري ترڅو عامه مالي مسايل په شفافه او حساب ورکونکي ډول مديريت شي. "

اروپايي ټولنه همدارنګه هڅه کوي ترڅو د نورو مرسته کونکو ترمنځ همغږي ترويج کړي. مونږ به ډير ژر يوه کړنلاره رامنځ ته کړو ترڅو وارزوو چې افغانستان څومره هغه معياروتو سره برابر دي او کوم نور شرايطو ته اړتيا ده ترڅو د اروپايي ټولني مرستي په مستقيمه توګه افغان دولت ته ورکول شي.

سفير ميلبن وويل: " پياوړي ټنيګار له نړيوال ټولني لخوا جريان لري ترڅو د توکيو د حساب ورکوني دوه اړخيز چوکاټ بيا تازه شي. پر همدی اساس اروپايي ټولنه هڅوونکي مرستي وړاندي کوي ترڅو افغان دولت وهڅوي ژر ډير لاس ته راوړني وړاندي کړي.

د اروپايي ټولني پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 0700173548
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu